# د جمهوریت۴۷کلیزې په مناسبت:





سردار محمد داوودخان د کودتا په لومړۍ شپه څه کول؟ او د جمهوري نظام مراندې یې څنګه ټینګې کړې!
زما(رحمت الله افغان) د نیکه قومي او جهادي مخور مشر مرحوم حاجي خان کوچي(سلطانخېل) د خولې مستنده کیسه او د سترګو لیدلی حال:

چو په چوپتیا وه، ولس په درانه خوب ویده ؤ، شاه خوا یوه نیمې بجې د حجرې د دروازې په زوره زوره ټکېدا له درانه خوب راویښ کړم، اند ښمن شوم، له ځان سره مې وویل دا وخت او داسې بېچمه دروازه ټکېدل، د کورنۍ له نورو غړیو سره له دروازې د باندې ووتم، یو عسکري روسي جیپ له زري پوش ټانک سره د دروازې مخ ته ولاړ وو.

دوه صاحب منصبان رامخ ته شول له روغبړ وروسته یې په ډېر احترام یې وویل، خان صاحب چا غوښتی یې ځان تیار کړه ځو، حیران شوم، دې نیمې شپې ته وګوره او د دوی غوښتنې ته، پوښتنه مې وکړه، چېرته ځو؟ دومره یې راته وویل کابل ته ځو، له صاحبنصبانو مې پوښتنه وکړه، څه خبره ده؟ چا غوښتی یم؟ دوی چې د احترام په ډول سرونه ښکته اچولي ؤ، ویل یې خان صاحب نه یو خبر، یوازې دومره راته ویل شوي، چې حاجي خان کوچی زر کابل ته راولاځ، ستا تګ حتمي او ضروري ده.

خبره مې ورغبرګه کړه، که اعلیحضرت محمد ظاهر شاه غوښتی یم سبا به، له څو سپین ږیرو سره درشم، خو د دوی ټینګار همدا ؤ، چې وخت کم دی باید اوس ولاړ شو.

چاره نه وه شاهي نظام ؤ، بیا د صاحبمنصبانو امر ؤ، سمدستي زري پوش ټانګ ته پورته شوم، اند ښنو واخیستم، له ځان سره مې ویل هیڅ وخت هم ټانک دلته نه دی راغلی، بیا کابل ته تګ، زړه مې غټ کړ، په ټانک کې مخامخ ناست صاحب منصب ته مې په ځیر وکتل سر یې ښکته اچولی ؤ، له خولې یې سپوږ نه ووت.

له نږدې یو نیم ساعت مزل وروسته په ټانک کې مخابره غږ شوه، صاحب منصب مقابل لوري ته په ځواب کې وویل، په پل محمود خان کې یو، ژر به در ورسېږو.

له څو دقیقو مزل وروسته له زرپوش ټانګ ښکته شوو، په تیاره کې مې د ارګ لوی او له عظمت ډک دیوالونه ولیدل، چو په چوپتیا ؤ، زه به ډېر کله د پاچا ته ورتلم په ملي او مهمو مسایلو به یې راسره بحث کاؤ، ارګ به تل شپه او ورځ له خوشحاله خلکو ډک ؤ، خو نن شپه هرڅه بدل ؤ، په ارګ کې هیڅوک نه تر سترګو کېدل.

صاحب منصب د دلکشا ماڼۍ لوی سالون ته بوتلم، صاحب منصب د سترګو په رپ کې پناه شو، په لوی سالون کې هیڅوک هم نه ؤ، مخامخ مې په ساعت سترګې ولګېدې، د شپې درې بجې وې، هیڅ نه پوهېږدم، خو هډونو مې راته ګواهي را کوله، چې کومه لویه پېښه شوې، چې ولس ورنه نه ده خبر.

ښه شیبه یوازې ناست وم، یو ناڅاپه د ماڼۍ د دروازې ګرپ شو، سردار محمد داوود یوازې سالون ته راننوت، حیران شوم، چې داوود خان خو شاه خوا لس کاله کېږي، چې له اعلیحضرت سره خپه دی، نو بیا ارګ کې څه کوي.

د سردار محمد داوود خان په څېره(اتره) کې اند ښنه، ستړیا، خو روعب او دبدبه له ورایه ښکارېده، زه ورته پورته شوم، مخامخ زما خواته رانغی، کله چې له نظام محمد داوود خان عزل شو، نو وخت ناوخت به ورسره کېناستم، په مینه او خلوص به یې ستړي مشي کول او د ولس په اړه به یې زیاتې پوښتنې کولې، خو نن شپه هرڅه بدل ؤ.

په سالون کې یې له قدم وهلو وروسته په درانه غږ رانه پوښتنه وکړه؟ خان صاحب ښه مې وکړل که بد؟ زه حیران شوم، چې سردار صاحب څه کړي، تر هغه وخت هیڅ خبر نه وم، ما د ویلو لپاره هیڅ هم نه درلود، بیا یې راته وویل، ما ښه وکړل، که بد؟ زه چې نه وم خبر نو د خبرو لپاره مې هم څه نه درلودل، په دریم ځل یې قدم رالنډ کړ، له کنګریزي او له غصې په ډک لوړ غږ یې راته وویل، خان صاحب ولې چوپ یې ما ښه وکړل، که بد؟

دا ځل مخامخ راباندې راغی ما ورته وویل، سردار صاحب نه یم خبر تا څه کړي؟ مخامخ راته ودرېد، په واضحو ټکو یې راته وویل، شاهي نظام مې رنګ کړ، جمهوریت مې اعلان کړی، واک له ما سره دی.

ما سمه ورغبرګه کړه، سردار صاحب په پښتو کې یو متل دی، لونګۍ چې له سره ولوېږي، په ولیو څرخه شي، لوېدلې نه ده.

دواړه مخامخ یو بل ته ولاړو، سردار محمد داوود خان خپل ښی لاس زما په چپه اوږده راکېښود راته وویل، ځه کلي ته ولاړ شه، ولسونو ته زما پیغام ورسوه، ورته ووایه چې بغاووت ونه کړي، له جمهوریت باید ملاتړ وکړي، چې دا هېواد په ګټه ده.

سردارمحمد داوودخان د خدای پاماني په وخت کې راته وویل، خان صاحب په هېواد کې دویم کس یې چې مشورې ته مې را وغوښتې، له تا مخکې د شینوارو یو قومي مخور دلته راغلی ؤ.

د دواړو دې روح ښاد وي!

**لیکوال: رحمت الله افغان**

## اطلاعیه

**به تمام جوانان وطن دوست ولایت لوګر که میخواهد درصفوف اردوی قهرمان جمهوری اسلامی افغانستان ایفای وظیفه نمایند ودارای شرایط ذیل باشد:**

1 – **تذکره تابعت افغانستان را داشته باشد.**

2 – **سن آن از** 18 **الی** 44 **سال باشد .**

3 – **معتاد، معیوب ومعلول نباشد .**

4 – **سابقه جرمی نداشته باشد .**

5 – **از صحت کامل برخوردار باشد .**

**خبرداده میشود که برای تعلیمات و تعینات آن درمربطات قول اردوی** 203 **تندر ثبت نام همه روزه جریان دارد، علاقمندان میتواندجهت شمولیت همراه با تذکره تابعیت به قومندانی مرکز جلب وجذب ولایت لوګر مراجعه نمایند .**

## لوګر پیژندنه / لوګر شناسی

**موږ سره مرسته وکړئ، چې ستاسو کلی هم در وپیژنو!**

# جمشید تخت



دا لرغوني او تاریخي سیمه د برکي برک ولسوالۍ په سجاوند کې پرته ده، لکه څنګه چې د نوم له قراینو څخه یې ښکاري، نو لرغونتیا یې د آریایانو دریم ستر افسانوي پاچا جمشید زمانو ته رسیږي، چې ۲۵۰۰ قبل المیلاد ته یې تاریخي جرړې غځیږي.

له جمشید تخت څخه داسې ډبرینې لیکنې لاس ته را غلې چې ددې سیمې د پیړیو پیړیو لرغونتوب په ذبات رسوي.

د جمشید تخت د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ د سجاوند په سیمه کې موقعیت لري او دغه سیمه د کابل ګردیز او غزني په منځ کې پرته ده، سجاوند د پیړیو پیړیو لپاره لرغونۍ، کلتوري او د تمدن مرکز ؤ، په تاریخي متونونو کې هم دغه سیمه کې د یوه ډیر ارزښمن کلتوری مرکز په توګه یاد شوی دی.

سجاوند سیمه چې جمشید تخت هم په کې شتون لري، ددې سیمې یادونه لرغوني یوناني مشهور جغرافیا پوه بطلیموس کړې، چې د لوګر د پیژندلو په اړه یې په خپلو لیکنو کې ثبت کړې دی، تر بطلیموس را وروسته چینایي زیارت کونکی هونتسنګ(په لرغوني افغانستان کې یې د ګرځیدو تاریخ شپږمه میلادی پیړۍ) ښودل شوې ده په اثارو کې یې د سجاوند سیمه را پیژندل شوې ده.

# انتظارنیازها وتوقعات بیشتر درخانواده ها

انتظار وتوقع یکی از مهمترین عوامل در تعیین سرنوشت های هر فرد نسبت به دیگران است. این موضوع در یک خانوادها که اعضای آن ارتباطات نزدیک با یکدیگر دارند بیشتر خود را نشان می دهد و بی توجهی هر یک از اعضای خانم ها به خواسته های اعضای دیگر ممکن است که باعث ایجاد برخورد در خانواده شوند.

انتظار یکی از برخورد غیر موثر به بروز پرخاشگری در افراد ذکر کرد ، زمانی که انتظار و توقع فرد برآورده نشود باعث احساس ناکام بودن در شخص و در نتیجه بروز رفتارهای غیرعادلانه و خشونت آمیز می شود.

بعضی از خانم هاودخترخانم ها هستند که ازجمله محاسبات آنها راتنها نیازها ،علاقه واحساسات خودشان تشکیل میدهد ،ومیگوید آیا میتوانیم آن وسیله ویابلند منزل راند اشته باشیم، وقت که درخانه خواهرخوانده ام بهترین اجناس است چرا ازمانباشد ،زمان که همسایه اش وسایل خانه خود را تغیرمیدهد چراما نمیتوانیم،بعد هم نوبت مهمانی ها میرسد خانم ها میخواهد اقوام ودوستان رابرای غذای چاشت ویاشب دعوت می نماید وبه شوهرخود میگوید فراموش کرده اید وقت که به خانه آنها دعوت شده بودیم چند نوع غذاها تهیه کرده بود ماباید ازآنها خوبترغذاها تهیه نمایم. بخش دیگرهم تحایف است که برای ازدوستان خود که عروسی کرده ویا ازسفرآمده بهترین هدیه ویاتحایف راتقدیم شان نمایند.

خانم ها از نظرلباس، تشریفات خانه، مهمانی ها وهدیه بردن ها ، چشم روشنی ها وغیره یک سلسله احساسات خاص دارد. خانم ها تنها متوجه خویشاوندان، همسایه ودوست خود است وهمه رادرچارچوب حضور خودش این مسایل را می بیند. اما این مصارفات ازکجا وباکدام پول وعواید باید تامین شود وحقوق درآمد شوهرش چقدر است.خانم ها نباید به یک طرف مسایل نگاه کند ومشغول فکرها وذوق خود باشد . فقط اینها را می بینند وخارج ازاین دایره فکرمیکند که معاش شوهرش تکافو میکند ویا اینکه اگر معاش شوهرام کافی است رعایت اصول اساسی اجتماعی واسلامی ومصارفات ګزاف که خلاف اساسات اسلامی است بشمارمیرود.

البته کسانی هم هستند که درآمد زیاد دارند مثلا بعضی از تاجران وصاحب شغل که درآمد برای شان آسان است.خانم ها فکرمیکند که شوهرام ازتمام توقعات برآمده میتواند یاخیر.پس همه درآمد صرف لباس وغذاهایی متنوع ومصارفات بی هوده صورت میگیرد ،اما مسولیت ایمانی و اجتماعی به کجا رفته است.

هر خانواده نظام مالی و عاطفی مشخصی دارد که بر اساس آن باید انتظار تمام اعضای خانواده را پاسخ داد. قرار نیست که خانواده که وضع مالی خوب دارد همه امکانات و وسایل مورد ضرورت را در اختیار داشته باشند بلکه این خواسته ها باید مدیریت شود و به هر کدام از آنها در زمان معین پاسخ داده شود.

**ترتیب کننده : امین الله(صفا)**

# درنو هیوادوالو!

**راځئ! همدا نن خپله زړورتیا دجګړو له لارې نه، بلکې دملي یوالي او وحدت له لارې ثابت کړو، چې موږ په خپل هیواد کې دتلپاتې سولې غوښتونکي یو اوچاته نوره اجازه ورنه کړو، چې زموږ په کورنیو چارو کې پټې اویا په ښکاره ډول لاسوهنې وکړي او زموږ ګران هیواد وران او ویجاړ کړي.**

**بس دی!**

**ډیرې تباهي او بربادۍ مو ولیدلې، ډیر تنګي او زلموټي ځوانان مو له لاسه ورکړل. بس دی!**

**نور ې مبارزې باید دیو موټیوالي او یوالي لپاره وکړو، نور خپګان پر خوښیو او خوشحالیو بدل کړو .**




**Islamuddin Samandary**



**خاطراتی که شماراناراحت میکند برای هر کسی بازګونکنید.**
**زمانی میرسد که شمادرحال فراموش کردن هستید.**
**امادیګران آن خاطرات رابرایتان بازګومیکنند،که ګویا درنزدیکترین زمان رخ داده اند.**

**Mohammad Mosa Adeel**



**له دې چې یو بل تخریبو باید د همکارۍ لاسونه سره ورکړو.**
**هغه څه وکړو چې د الله (ج)او د هغه د مخلوق رضا پکې وي.**

**Mohammad Ishaq Mohammadi St**



**له هغو کسانو څخه مننه کووم، چې له مانه کرکه کوي، ځکه چې هغوی ماته ځواک را ببني. له هغو کسانو څخه مننه کووم، چې له ما سره مینه لري، ځکه هغوی زما زړه ستروي. له هغو کسانو مننه کووم، چې ما پرېږدي، ځکه هغوی ماته دا را زده کوي، چې هېڅ خیز تل پاتې نه دی . له هغو کسانو څخه هم مننه کووم، چې له ماسره پاتې کېږي، ځکه هغوی ماته د رښتیني ملګري مانا را ښیي ... کاپي**

**Mohammad Zahid Sultani**



**زنده ګی همه یک راز و امتحان است، انسان های معصوم به پاکی واصل این راز وامتحان مبادرت می ورزند.**

# بډې «رشوت» او غلا

بډې یا رشوت: هغه مال دی، چې له دولتي څوکۍ څخه په ګټې اخیستنې پرته له ټاکل شوو حقوقو او دقانوني لاربښوونو له خلکو څخه ترلاسه شي، یعنی هغه مال دی، چې د تا په زړه کې اړ کس ته نرمښت پیدا کوي اویا دبل دحق خوړلو ته دې اړ کوي، مثلاً کله چې ته دې دمور یا پلار په کور کې کینې او یا دنده پرېږدې تاته څه شي نه درکوي، خو د دندې پرمهال یې درکوي دا رشوت او حرام دی دا مال به یې دقیامت په ورځ دغاړې غړوندی وي او نارې به وهي، چې موږ ددغه کس مال نه یو .

خلص مطلب که چیرې دولتي کارکوونکی له دولتي څوکۍ څخه په ګټې اخیستنې په نامه د ( شیریني ، ځواني، ډالۍ، میلمستیا او نور... ) له خلکو مال ترلاسه کړي دا رشوت او حرام دی اسلام امر کوي، چې دغسې مال دې بیت المال ته وسپارل شي، حرام څیز ته هر نوم چې ورکړي نه حلالیږي.

له عایشې (رض) څخه روایت دی، چې دمخزومې دمیرمنې دغلا کړنه پر قریشو سخته تمامه شوه، ځکه چې مخزومې په قریشو کې لوړځای درلوده، دوی وویل: چې څوک ددې په اړه له رسول الله(ص) سره خبرې کوي، بیا دوی وویل:چې څوک له اسامه بن زید(رض) څخه ډیر د رسول الله(ص) محبوب کیدای شي.(دی دې شفاعت ته ورشي) بیا اسامه بن زید له رسول الله (ص) سره په دې اړه خبرې وکړې، خو رسول الله(ص) ورته وویل: آیا ته دالله تعالی له حدودو څخه په یوه حد کې دشفاعت غوښتنه کوې؟ بیا رسول الله(ص) ودرید وینایې وکړه او ویې ویل: بیشکه ستاسو څخه مخکیني ملتونه په دې هلاکه شوي، چې کله به زورور او دقدرت څخه غلا وکړه، هغه به یې پرېښوده، خو کله به چې کمزوری غلا وکړه، نو پر هغه به یې حد پلی کولو، زما دې سوګند پر الله تعالی وي که فاطمې دمحمد(ص) لور غلا کړې وي، مابه یې لاس پرې کا وه. (متفق علیه)

اوس که تاسې هم زورور ته امتیاز ورکړئ اوله کمزورې څخه یې واخلئ تاسې به هم هلاکه شئ.

**دمطلب رالیږونکی : لوګر حج او اوقافو ریاست**